# د حافظ خان محمدادبي زيار

## LITERARY CONTRIBUTION OF HAFIZ KHAN MUHAMMAD

Muhammad Naseem Tareen
Dr. Naseebullah Seemab*
(Corresponding Author )

***Abstract***

*Literature reflects life. In Pashto literature, there have been many poets. Every poet has distinguished place in Pashto literature. But Hafiz Khan Muhammad Kakar is one of them, who exist in the shining history of Pashto literature, but have not been known to many. He served through his poetry the religious, national and reformative aspects of Pashtoon society. He has written many books in Pashto and written an anthology of poetry. Many contemporary poets are unaware of his poetic contributions.*

*This paper attempts to examine the poetic contribution of Hafiz Khan Muhammad Kakar to Pashto literature.*

د ژوندهره لمحه و انساني ذهن تۀ يو نوی خيالي کېفيت وربخښي چې هغه کېفيت د انسان تر ذهني بلاغتۀ پورې اړه لري. کله چې حېوان ناطق پۀ خپلو ورځنۍ چارو کښې بوخت شو نو هله يې د ژوند د اساتياو له پاره نوې نوې تجربې کول شروع کړې. د تجربو دغه تسلسل مخ پۀ وړاندي خپل يون جاري ساتلی دی .يو نه ستومانه کېدونکی عمل غوندي پۀ منطقي دنيا کښې سترګي و غړولې .له هم دغه وخت څخه پۀ انساني ذهن کښې تخليقي عنصر د ځان د ثرګندولو هلې ځلې پېل کړې چې لا تر اوسه پورې مخ پۀ برياليتوب رواني دي. هر ذهن دغه تخليقي عمل تۀ د لاس رشولو هڅه کړې ده . څوک لږ برياليي شوي خو څوک ډېر برياليي شوي دي. هر تخليق هله کښېږي کله چې

* Prof. Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

تخلیق کار یې اړتیا احساس کړي. د هر تخلیق څخه د خالق نظري، فکري او فني څرګندونه کښېږي. د تخلیق دغه نړۍ بېلا بېلي څانګي موندلي دي. زموږ موضوع د یو ادیب (تخلیق کار) پر تخلیقاتو باندي د بحث کول سره اړه لري. نو ځکه و ادبي تحقیقي څېړني ته خپله موخه راګرځوو. هره څېړنه خپله یوه دائره او طریقه کار لري. د ادبي څېړني طریقه کار پۀ نظر کښې ساتلو سره موږه دې څېړني ته ځان جوګه کوو. نن پۀ دې ادبي څېړنه کښې د سهیلي پښتونخوا دادب یو ځلانده ستوری خپل هدف ګرځوو؛ د ده پر کار او زیار د خپل فکر مطابق رڼا اچوو.

دغه تخلیق کار حافظ خان محمد کاکړ نومېږي، چې د پلار نوم یې عبدالرحیم دی. دپښین د خانوزۍ پۀ کلي کښې پۀ 1914کښې پیدا شوی دی. پۀ کوشنیوالي کښې له سره د مور او پلار سایه پورتۀ شوه. او پۀ پښتني ټولنه کښې د یو یتیم غوندي ژوند تېر کړئ.څوک چې د یتیمۍ داغ وخوري بیا ټول ژوند د دې داغ له اثراتو څخه ځان نه شي خلاصولای. پۀ خپل یو بیت کښې د یتیموالي درد داشي بیانوي:

"خان محمد د یتیمۍ داغ دی لیدلئ
د پښتون یتیم بې حده خوار و زار وي"[1]

د ده له دې شعر څخه د پښتني ټولني څهره پۀ ښه توګه څرګندیږي چې د یتیم سره څه رنګه چلند کښېږي.د یتیم له پاره پۀ هره ټولنه کښې ځای جوړول ګران وي ،پۀ هم داشي ناسازه حالاتو کښې یې څه زدکړه د حافظ آدم خان مرحوم څخه وکړه او د سکول تعلیم یې تر څلورم جماعتۀ پوري تر سره کړی.د حالاتو ستم یې د نور تعلیم خواهش تر سره نه کړی.خو د پښتو سره یې مینه شوکه پیدا کېدله.چې زلمی شو، د پښتو سره یې مینه هم زلمیتوب تۀ ورسېده. پر پښتو مئین دغه پښتون زلمي د پښتو بې کچه میني پۀ شوب پۀ پښتو ادب کښې د حافظ خان محمد پۀ نامه پژندګلوي پیدا کړه. دغه

لېونۍ مینې حافظ صاحب د ډېرو پښتو کتابونو مصنف او د پښتو د اشعارو د یو ضخیم دیوان څښتن وګرځاوی.

اندېښنه لرم چې د حافظ صاحب د ادبي پېرزوینو سره بۀ د عصر حاضر ډېر ادیبان اشنا نه وي. د دې مقالې اصلي موخه او هدف هم دا دی چې د یو داشي ادیب سره موږ پۀ قلمي اعتبار پېژندګلوي پیدا کړو چې پۀ اصل کښې د تاریخ پۀ پاڼو کښې ژوندی دی خو د وخت ناکرده وو له موږ څخه لږ مدهم غوندې کړئ دی.حافظ خان محمدد سهیلي پښتونخوا د پښتو ادب پۀ تاریخ کښې جوت مقام لري. آن تر دې چې د بېټ نیکه څخه نیولې تر نهمې صدۍ پورې د سهېلي پښتونخوا د پښتو د ادب منبع غوندې ده. له دې وروستۀ د دې شیمې نوم د تاریخ پۀ پاڼو کښې د ورکېدو و خواتۀ ځي. د دومرې لرغونې پس منظر لرلو باوجود یو وار بیا دغه شیمه د قلم د څوکې څخه ورکښېږي؛ داشي ولې وشول ، دا پر خپل ځای یوه درنه پوښتنه ده. زموږ داشي ډېر ادبي ستوري خورا شاتۀ را څخه پاتۀ شوي دي. دې حالاتو تۀ عبدالکریم بریالی داشي اشاره کوي:

"د اتلسمې او نولسمې پېړۍ د پښتو شاعرانو او لیکوالانو پۀ باب د ادب تاریخ خاموشه دی. ډېر لیکوالان د ماضي پۀ ادیرو کښې ښخ شو خو حالات یې معلوم نه شول"[2]

خدای خبر چې نور بۀ لا څو له موږ څخه د پښتو دغه چوپړ وهونکښې ورکوي .دا د پښتو ادب او د دې شیمې لویه المیه ده چې پۀ تاریخ کښې چا توجه ورکړې او نه اوس داشي ښکاره کښېږي ،خو د وخت پۀ تېرېدو سره امید دی چې حالات بۀ ښه شي ځکه چې د تحقیق دروازې خلاصې شوي دي.

حافظ خان محمد کاکړ یوازې یو شاعراو ادیب نۀ وو بلکې د پښتو د ادب له پاره یو انجمن غوندې وو. حافظ صاحب د سهیلي پښتونخوا پۀ پلازمېنه کوټه کښې یو کتاب پلورنځی پرانستې وه، پۀ هغه کښې د پښتو د کتابو سره سره د نورو ژبو کتابونه هم

خرڅول .که څه هم دا یو کاروباري ځای و خو د دغه کتب خانې اصل موخه هم دا وه چې پهٔ دغه ځای کښې بهٔ د لیرو لیرو وطنو څخه ادیبان راتلل او دلتهٔ بهٔ کښېناستل او د دې ځای د لیکوالانو سره بهٔ یې لیدل کتل هم کېدل، کنې د کاروبار له پاره خو نور څه هم ډېر وو.

"د حافظ خان محمد صاحب دکان پهٔ کوټه کښې شپېتهٔ کاله مخکښې د علم او ادب د پوهاندو مرکز و او نورو مخورو شاعرانو او عالمانو بهٔ دلتهٔ ناستهٔ کوله. علامه عبدالحی حبیبي هم څو څو ځله دلتهٔ راغلئ و او د حافظ صاحب سره یې ډېر مخلصانه تړون ؤ. علامه حبیبي یې خانوزي ته بیولئ ؤ او ښه د خوند دعوت یې ورتهٔ کړئ و.پهٔ دې کښې شک نشتهٔ چې حافظ صاحب پهٔ هغه دور کښې د فضل احمد غازي مرحوم، ډاکټر خدائیداد مرحوم، ایاز داود زئی مرحوم د ناستي ولاړلې ملګری وو او دغو ښاغلو پهٔ دې شیمه کښې د پښتو ادب لومړې اډانه جوړه کړې ده" (3)

حافظ صاحب چې د کوم غرض له پاره دا کتب خانه پرانستلې وه د حافظ صاحب دغه ارمان د ده پهٔ ژوند کښې پوره شو. چې دکان یې د ادبیانود ناستي له پاره یو مهم ځای وګرځېدلی،نه تش دا چې د ناستي ځای بلکې د ادبي فعالیتونو مرکز هم جوړ شو.

"څه وخت چې پهٔ کوټه کښې پښتو ادبي فعالیتونه پیل شو نو اروابناد کاکړ د هغه وخت د ادبي کاروان سر خېل وو، د ده پهٔ مینه ناکه شخصیت ټوله لیکوال او واړه شاعران راکوړه وو. حق لري چې اروابناد تهٔ د پښتو انجمن ووایو "(4)

حافظ صاحب د مطالعې تږی او د علم شوقي سړی وو. ځکه خو یې د خپل شوق او تندې په خاطر د پښتو له پاره تالیفات او تصنیفات کړي دي. مرحوم د خپل عصر په څو وتلو ادیبانو کښې و چې د خپل قام په نبض پوه او د حل لاره یې ورته ګرځنده وه .پښتون اولس ترننه پورې د دنیا د ډېرو جدیدو علومو څخه بې برخې پاتې دی. د پښتانه اولس د نړۍ په علمي میدان کښې د شاتې پاتې کېدو اصل علت د علم نېستي ده او د علم څخه لیرې والی دی. و پښتانه اولس ته د ریالزم د پېروکارۍ ځکه اړتیا ګڼم چې د دوی تراوسه پورې د ژوند اصلي ضروریات هم پوره نه دي. پښتانه ادیبان چې کوم ادب تخلیق کوي باید چې خپل اولس او د اولس ضرورتونه په نظر کښې وساتي،د هغوی بنیادي فکرونه عقیدې په نظر کښې ونیشي. که څه هم د حافظ خان محمد په عصر کښې په پښتو ادب کښې دریالیزم په باقاعده توګه پېژندګلوي نه وه خو د حافظ صاحب که نظم دی،که نثر په مجموعي توګه دحقیقت پسندي څرک ډېر له ورایه په کښې ښکاره کېږي. حافظ صاحب په فکري حواله " ادب د ادب له پاره" پلوي نه دی بلکې د پښتانه قام افادیت په "ادب د ژوند له پاره " کښې ویني او تر خپله وسه پورې یې په خپلو تخلیقاتو کښې دغه فلسفه ژوندی ساتلې ده. که په جدید څېړنه کښې د حافظ صاحب فکر په ژوره توګه مطالعه کړل شي نو د ده تخلیقات د دنیا د هر جدیه ادب سره موازنه کېدلای شي او د ریالزم په صف کښې درېدلای شي. د دور حاضر د محقیقینو او نقادانو ذمه واري جوړېږي چې هغه زموږ زوړ ادب په نوې پېمانه او د نن په زرینو ګینړو وپسولي.

"زموږ ادب خو په رښتیا حقیقي دی فقط دغه زوړ ادب په عصري ډول روزل او ارتول او پالنه غواړي. چې د ژوند ټولي ښېګړې په کښې ومیندل شي او دا زموږ د پښتو ښکلی ادب په عصري ډول هم روزنه ومومي" [5]

واقعي يوازي حافظ صاحب نه بلکې د پښتو د زاړه ادب ټوله ستوري که پۀ نني عصر کښې وکتل شي ګمان کوم چې زموږ د ادب پنګه بۀ پۀ عصري ادبياتو کښې ډېره درنه شي ولي چې پۀ زاړه ادب کښې د ژوند ريښتونې فلسفه پۀ لوړ مقدار سره موجوده ده. چې پۀ اوسني عصر کښې زموږ د ستونځو حل پۀ ادبي اعتبار تر ډېره حده پوري د هم دې رياليزم سره اړه لري.

" درياليزم معنا دا هم ده چې ليکوال شاعر او هنرمند پۀ هنري شکلونو کښې د اجتماعي واقيعتونو رښتني تصوير لوستونکو تۀ وړاندي او عرضه کړي"(6)

حافظ صاحب د ژوند ټول ريښتوني حقيقتونه و ټولني تۀ وړاندي کړي دي د مرحوم حافظ خان محمد د دې خبري اثبات صاحبزاده حميدالله داسي کوي.

"دا هيله ساتل چې هغه بۀ د "ادب د ژوند له پاره" پۀ نظريه پوه يا بۀ يي افاديت ورتۀ معلوم وي ډېره عجبۀ خبره ده. خو د خداى بخښلي ښاغلي حافظ شعر و شاعري پۀ باب نظريه ډېره نوې او ترقي پسندانه او پرمخ تللې ده. دى "ادب د ادب له پاره" منونکى نه دى او ځاى پۀ ځاى د مجاز و شاعري تۀ د درواغو د عاشقۍ کارو بار وايي"(7)

حافظ صاحب که پۀ دغه نظريه پوه او که نۀ دى خود اشعارو څخه يې دا خبره ښکاره کيږي چې حافظ مرحوم پۀ باقاعده توګه فلسفه "ادب د ژوند له پاره" عملي کړې وه، ټولني تۀ يې هغه څه ور پۀ ګوتۀ کړي دي کوم چې د هغه د حقيقي ژوند يو حقيقي انځور دى د بيلګي پۀ ډول يې موږ دا شعرونه وړاندي کوو.

"لازم د قوم ويښېده دي پۀ تقدير و تحرير
دښو وئيلو ښه عمل حاصل ښه کار ساقي

د حافظ داسي وئيل خوښ دي چې څه نفع لري
د غلط عشق وئيل غلط ځيني بېزار ساقي"(8)

دا شعرونه هم زموږ خبره پخوي چې:

"پۀ محنت سره ملکونه ښه ګلزار شول
پۀ غفلت سره کورونه تار پۀ تار شول
بايد يو ساعت د عمر برباد نه کړو
چې برباد يې کړو خپل عمر خوار او زار شول"(9)

دا رنګه دا لاندي شعرونه وګورئ :

"همت وکړه د فائدې شی کړه ایجاد
یا یې زده کړه د یور پۀ نه دي بد "(10)

يا دا چې:

"ښه پۀ علم و هنر ځان ښائستۀ کړه
سم له خلګو سره کړه رفتار پښتونه
د پښتو ن ماضي شانداره خان محمده
ښه کړه حال او ائنده تلوار پښتونه"(11)

تاسو وليدل چې د حافظ خان محمد پۀ شاعري کښې د ژوند ټول اصلاحي او حقيقي رنګونه له ورايه ښکاره کيږي.که څه هم د حافظ پۀ شاعري کښې کلاسيکل رنګ ستۀ خو نوی رنګ اوعصري شعور دومره زيات پر غالبۀ دی چې د قدامت او کلاسيک رنګونه يې مدهم کړي دي. د نمونې پۀ توګه خو بۀ خامخا څه نه څه قدامت پۀ کښې وي ولي چې يوه غزل يا يو نظم خو نه دی بلکې پوره دېوان دی. البتۀ پښتني مينه ،د

پښتون ملت ستونځې او مذهبي رجحان د حافظ په شاعرۍ کښې په ډېر مقدار وجوديت لري.

حافظ صاحب په خپله شعري دنيا کښې ځای پر ځای په فني لحاظ سره څه نمګړتيا وي هم لري خو د ده فکر د ژورتيا په خاطر ترهغه فني نيمګړتياوو د تېرېدو حق لري.

حافظ د پښتانه سره مينه او د پښتانه پر حالاتو د زړه درد داسي انځوره وي.

"هغه څوک چې نه لري پر وطن مينه
زه بۀ بولم تر هغه سړي خدشيه
چې غدار وي د ملت و قوم حافظه
هغه ډېر بد وبوله تر لعينه"[12]

او دا شعر:

"ای وطنه که دښمن لتا څه ورک کړم
فخر کړمه که چه تاباندي ځان سپک کړم
ای وطنه که موږ وو تابۀ ازاد کړو
يا ځان مړيا بۀ دښمن له تانه ورک کړم"[13]

دلتۀ موږ د ده د شعر له فني اړخ سره بحث نه کوو، بلکې فکري اړخ تۀ متوجه يو. د څو پېړيو په برابر د پښتانه سره د عصر د حکمرانانو رويه بې خونده ښکاره کېږي. پۀ غېر محسوسه انداز کښې چې د پښتون اولس سره کومه د ناانصافي زمينه برابره وي هغه و پښتانه ملت تۀ داسي پۀ ګوتۀ کوي.

"پۀ دې ملک کښې پښتانه ډېر پائيمال
حکومت يې د حق نه کوي څه خيال
داسستي ده د خانانو نوابانو

پرواه نه کوي د قوم د وبال

ټول غټان مودي پۀ سره اور کښې ننې شي

چې رضا د ملک ملت وي پۀ زوال

چې ذاتي غرض له مخه تر ملي کړي

خان محمده ده هغه قوم دی د زوال"(14)

دغه راوړل شوي څو اشعار که پۀ ژور او د ثالث پۀ نظر وکتل شي نو د ده دا شعرونه وپښتانه اولس تۀ هغه کورنی دښمن ورپۀ ګوتۀ کوي چې پښتانه تۀ يې هر وخت د شاتو پۀ ګلاس کښې زهر ورکړي دي، د ځان د واکدارۍ او جاه وجلال د خوندي ساتلو له پاره د انسانانو څخه زينې جوړوي.د هغوی د مال او سر پۀ بدل خپلي ماڼۍ سازوي. حافظ دغه ټولنيزه وبا پۀ ډېرو صفا او ښکاره الفاظو غندلې ده. يوازي دانه چې غندنه يې کوي و اولس تۀ د خلاصون لار هم ورښايې.

"که غواړي چې طاقت ورشي د دولت لاس

سره ورکړي يو و بل تۀ د مدت لاس

نه خوارېږي هغه قوم تاريخ وګوره

چې لري څوک د هنر او د همت لاس

چې پۀ چا کښې اتفاق وي خان محمده

پۀ هغو وي غوړېدلي د رحمت لاس"(15)

حافظ د جهل ناجوړي د ملت دپاره لوی زيان ګڼي او د جاهل سره ناستۀ لاهم ناپوهي بولي.

"همېشه بۀ وي خواشينه او زړه شين

هغه کس چې وي طبيب دجاهلانو

که هر څو غمګين ذهيريې خان محمده

خبردار نه شې قريب د جاهلانو"(16)

او له دنيا سره تر ضرورت او حد زياتۀ مينه د مسلمان تاوان بولي او خپل حقيقي مقصد يعني د عقبی د مينې څخه يې بې برخي کول ګڼي د هغوی له پاره وعظ اونصيحت يې پۀ آسانه ټکو کښې بيان کړې دی.

"ای چې غوارې د بل کمه
پېښن بۀ سې پرخپله کمه
پر دنيا پا تېده نستۀ
داخبره ده مسلمه
که يې نه منې وګوره
له آدمه تر دې دمه
وروره واوره له ماخواره
ياد لره مرګ پۀ هردمه"(17)

د حافظ صاحب شخصيت يقيناً يو قامي شعور لرونکی شخصيت و. پۀ ډاګه دا خبره کولاي شو چې حافظ مرحوم د پښتانه اولس يو نبض شناسه حکيم پۀ څېر زموږ مخ تۀ راځي.دی د ژوند د تېرولو طريقه پۀ پر مخ تللې ټولنه کښې چې پر کومو اقدارو تکيه وي ددې دپاره تواضع او عاجزي لوی هنر بولي.

" ګران تر سترګو پۀ هر چاسې
که ګويا پۀ ښه وينا سې
تواضع لکه لاره
چې پر غرو باندي بالاسې
که لويي کړې لکه دوړه

پهٔ صحرا کښې بهٔ فناسې
د حافظ وئیل که پند کړې
پهٔ حکمت کښې بهٔ بېناسې"[18]

یو بل ځای حافظ صاحب د عمل او کردار پهٔ اړه داشي وایي:

"چې اخر پښېماني کړې پر یوه کار
له اوله څخه مه کړه هغه کار
پهٔ اخلاص دانه غنم بار شتردی
بې اخلاصه د اوښ بار دانه جوار
د سړي قدر پهٔ ژوند کوی سړیو
دا څه قدر چې راغونډه شي پر مزار"[19]

د حافظ خان محمد مرحوم پهٔ کلام کښې پهٔ زیات شمېر هنرونه نغښتي دي، چې هغه پهٔ پښتني ټولنه کښې د ژوندانه هره ستونځه دلیري کولو توان لري. د حافظ صاحب پهٔ شاعري کښې پهٔ فني حواله سره څه نه څه نمګړتیاوي تر سترګو کېږي ځای پر ځای د قافیو ځیني نمګړتیاوي او د رواني کمښت هم لري. دحافظ صاحب پهٔ شاعري کښې د پښتو شوچه توري ډېر کارول شوي دي ولي چې حافظ صاحب پهٔ خپله هم ملا و پهٔ فارسي او عربي ژبو یې هم عبور درلود. د ده پهٔ اشعارو کښې څه نه څه فارسي او عربي لغات پهٔ نظرراځي.البتهٔ د سهېلي پښتونخوا ډېر زاړه او سوچه د پښتو ژبي ټکي هم د حافظ مرحوم پهٔ شاعري کښې خوندي دي. د حافظ پهٔ دېوان کښې د ژوند د هري څانګي سره اړه لرونکي اشعار ستهٔ خو زیاتره برخه یې ملي، اصلاحي او مذهبي ده. حافظ صاحب یو عام ملا نه ؤ،بلکې د اسلامي علومو څخه خبر سړی وځکه خو یې پهٔ خپل کلام کښې د شریعت پهٔ چوکاټ کښې و هر چاتهٔ د ژوند د تېرولو پېغام ورکړی دی. خو دغه دروند پېغام یې و ټولني تهٔ پهٔ یو ساده طرزبیان کښې ورکړی دی .د

اشعارو ژبۀ او طرز يې ډېر مشکل او پېچلی نه دی خو د طرز بيان څخه يې دا ښکاره کېږي چې دا د يو پښتانه ملا و عظ او نصيحت دی.

"حافظ صاحب شاعري لکه څه رنګه چې دی پۀ خپله وايي يو ساده پېغام دی چې نه پېچېده الفاظ پکښې دی او نه ګراني خبري"[20]

د حافظ صاحب د شاعري پۀ اړوند که نور تحقيق او پلټنه وشي ګمان کوم چې نور نوي نوي اړخونه بۀ پۀ کښې و موندل شي. پۀ ډاډ سره وئيلای شو چې دسهيلي پښتونخوا د رزم سرخېل د ملا سلام اشېزي تر څنګ حافظ خان محمد کاکړ هم کلک ولاړ دی. دا بېله خبره ده چې کوم حق پۀ شاعري کښې پر اوسني ليکوالانو او محقيقو باندي لري، هغه تر ډېره حده پوري نۀ دی پر ځای شوي. پۀ نور تحقيق او څېړنه بۀ دوخت سره حافظ صاحب تۀ د شاعري پۀ ميدان کښې پۀ سهيلي پښتونخوا کښې مرکزي حيثيت ورکول شي.يواځي دانه چې حافظ صاحب شاعر ؤ بلکې حافظ و سهېلي پښتونخوا تۀ هغه لومړۍ پېرزوينه هم ورکړې ده چې پۀ ادبي اصطلاح د شاعرانو تذکره ورتۀ ويل کېږي، د سهېلي پښتونخوا لومړی تذکره نګار حافظ خان محمد مرحوم دی. چا چې پۀ ډېرو سترو حالاتو او نامساعد چاپيرچل کښې د شاعرانو يوه مستنده تذکره"د کسې ګلان" پۀ نامه سره ليکلې ده. ټول محقيقين پۀ يوه ږغ سره "د کسې ګلان" د سهېلي پښتونخوا لومړۍ تذکره ګني.

"د کسې ګلان" تۀ داافتخار حاصل دی چې پۀ دې سيمه کښې پر دا موضوع دا لومړی کتاب دی. او دې کتاب د سهيلي پښتونخوا ليکوالان پر دې پارولي دي چې پر دې موضوع ښه ښه کتابونه وليکي"[21]

حافظ صاحب د پښتو د شاعرانو تذکره پۀ داسي حال کښې ليکلې ده، چې پۀ پښتو ادب کښې د تذکرو د ليکلو رجحان کم وو. پۀ دغه وخت کښې د تذکرې پۀ قطار کښې د پښتو ژبې غالباً پټه خزانه (تذکره) د حافظ صاحب وه مخ تۀ تېره شوې وه. بله داسي تذکره نه وه چې حافظ صاحب دي رهنمايي ځيني اخستې وايه يا اخيستنه يې ورڅخه کړې وای. پۀ دغه تذکره کښې د شاعرانو لړۍ د بېټ نيکه څخه رانيولې بيا تر هم عصر و شعراء پوري را رسول شوې ده. ټول پۀ کښې ۱۲۷ شاعران ياد شوي دي. پۀ دې ۱۲۷ شاعرانو کښې څلور زنانه دي. البتۀ ټول شاعران د سهېلي پښتونخوا سره اړه لري.پۀ دې تذکره کښې د تذکره نګارۍ چې کومه دائره ده هغه پۀ کښې ځومره پامول شوې ده هغه بۀ د هم عصرو تذکرو سره کتل کېږي. پروفېسر ولي محمد د کسې ګلان و موږ تۀ داسي را معارفي کوي.

> "حافظ خان محمد کاکړ د پښتو يو لوی خواخوږی او د ګراني پښتو يو غښتلی پلوي و. نوموړي ټول عمر د پښتو پۀ خدمت کښې راتېر کړی دی...... د سهېلي پښتونخوا پۀ دې ادبي تذکره کښې د ۱۲۷ شاعرانو د ژوندانه لنډ ګنډ حالات او د اشعارو نمونې راغلي دي"[22]

پۀ دغه ادبي تذکره کښې د هر يو شاعر څه نه څه د ژوند حالات او د شاعري نمونې راوړل شوي دي. پۀ دې کښې اکثره شعراء حافظ پۀ خپله ليدلي دي او يا يې دمستندو کتابو څخه را اخيستي دي. پۀ دغه شعراء کښې د دې سيمي ټول هغه ورک او بې نومه شعرا پۀ کښې ژوندي شوي دي، چې له دې تذکرې څخه مخ کښې چا نه پېژندل. د کسې ګلان نومي ژبۀ خورا آسانه او ساده ده. عام او روزمره نثر يې کار ولی دی. د دې کتاب پۀ وئيلو سره دا احساس نه کېږي چې دغه د نثر طرز او انداز دي د چا څخه ماخذ وي. بلکې هغه سوچه لغات او الهامي انداز پۀ کښې کارول شوئ دی چې د نورو تذکرو څخه د انفراديت نخښه جوړېږي. له دې تذکرې څخه وروسته پۀ سهېلي

پښتونخوا کښې نوري تذکرې هم ولیکل شوې خو په هغه د کسې ګلانو تنده نه ماتیږي. که څه هم د حافظ صاحب دطرز او نثري انداز څخه دا جوتیږي چې دا د یو ملا صاحب لیکلی نثر دی.

"د دې کتاب د لیک انداز د مدرسې دی دا ځکه چې حافظ په خپله د مدرسې پیداوار ؤ. خو زه د دې د انداز ځکه قدر کوم چې په دې توګه لوستونکو ته د تېردوران او بیا په خاص ډول د هغه دوران دپښتو د بیان انداز او آهنګ څرګند وي او په دې توګه موږ کولای شو چې په دې ذریعه د ګراني پښتو د ترقي د رفتار جاج واخلو"[23]

په دغه تذکره کښې دعصر او معیار په برابر تنقید هم شوی دی که څه هم په هغه وخت کښې د تنقید رجحان کم وو. د هغه وخت د ځینو لیکلوالانو تنقید موږ لیدلئ دی چې په تنقید کښې نوبت تر ادبیاتو وتلی و او بلې خوا ته اشاره کوي. که څه هم د دوئ و مخ ته ډېر مستند کتابونه پراتهٔ وو. په دې تذکره کښې ادبي تنقید دخپل عصري تنقید په معیار سره پوره شوئ دی. د خبرې مقصد او غرض مې دا دی چې لیکوال هغه ټول څه په کښې راوړي دي چې د شاعرانو سره د مرکې پروخت د د حال د ټولو په دوران کښې څه ورسره پېښ شوي دي.

د دغه تذکرې یوه بله ځانګړتیا دا ده چې پر دې تذکره خوش بختانه ۳۶ مخونه مقدمه لیکلې شوې ده چې د لوستونکو له پاره د مقدې په لوستولو سره د کتاب د لوستولو اړتیا نهٔ پاتهٔ کېږي. دغه مقدمه زما په فکر په خپل ځان کښې یو بشپړه کتاب دی. مقدمه په اصل کښې د عربي ژبې توری دی. په ډېرو وختې زمانو کښې چې بهٔ کله یو لښکر تیارشو د خپل څه مقصد له پاره چې به یې تګ کولی هغه لښکر بهٔ د مرغه د جسد په اړوند حرکت کولی. یعني په دغه لښکر کښې بهٔ وزر، لکۍ، ځیګر او د مرغه

سر بهٔ پهٔ کښې ټاکل کېدل. دغه د سر و حصې تهٔ یې پهٔ عربي لغت کښې مقدمه الجېش وئیل کېدل. لکه څنګه چې مرغه یو خوا تهٔ ځي پهٔ جسدي لحاظ یې لومړی سر مخ تهٔ وي هم دغه راز بهٔ دغه د لښکر لومړی حصې مقدمه الجېش مخ تهٔ سفر کولی چې د شاه د ملګرو له پاره بهٔ یې لار کتله او رهنمائي بهٔ یې کوله. د دیني علومو د عربي ژبې یو کتاب علم معاني(مطول) چې لیکوال یې مولانا علامه سعد الدین تفتاظاني دی هغه لیکي چې دغه مقدمه الجېش وروستهٔ لیکوالانو پهٔ خپلو تصنیفاتو کښې هم پهٔ دغه مفهوم سره راوړې ده. یعني چې مقدمه بهٔ د کتاب رهنمائي کوي، ولوستونکو تهٔ بهٔ د کتاب پهٔ وئیلو کښې اسانتیا راولي. او لوستونکې بهٔ د کتاب پهٔ غرض پوه کوي البتهٔ مقدمه غرض او مقصد نه وي. یواځې د لار ښووني ترحده پورې وي .خو زموږ دې محترم استاد چا چې دغه مقدمه لیکلې ده.خپله لیکلې مقدمه یې د کتاب غرض ګرځولې ده. چې د کتاب غرض یې شاتهٔ غورځولی دی، د دې مقدمې پهٔ اړه محترم لیکلوال پروفیسر ولي محمد کاکړ داشي نظر لري.

> "ښاغلي صاحبزاده د مقدمې پهٔ پېلامه د اروښاد حافظ پهٔ ګلالۍ تذکره کښې خپله ناموزه "تذکره" ځای کړېده. زما پهٔ خیال یو نامناسب او ناشده کار دی .... رښتیا هم د ادب پهٔ دنیا کښې د ښاغلي صاحبزاده حمید الله و مقدمې تهٔ ادبي مقدمه نه شو وئیلای. د ښاغلي صاحبزاده مقدمه هر څه بهٔ وي خو د یو کتاب مقدمه ببخي نه معلومېږي...... دکسې ګلان د صاحبزاده پهٔ اغزنه مقدمه کښې رژېدلي او د ادبي سیاست پهٔ چپلا خه وهل شوي دي"[24]

ښاغلي سیال کاکړ پهٔ دې کتاب کښې د راوړل شوو حوالو و مضمون تهٔ نوم "مقدمه که پهٔ تذکره کښې تذکره" ورکړی دی. موږ بهٔ د کسې ګلانو و مقدمې تهٔ پهٔ ادبي دنیا کښې

یو د ټیټ معیار لیک ووایو. ګمان کوم که چېري دا تذکره د حافظ مرحوم پهٔ ژوند کښې چاپهٔ شوې وای کېدلی شي چې دغه مقدمه نه وای ورسره یو ځایه شوې.

د حافظ صاحب د اشعارو څخه موږ دې نتیجې تهٔ ورسېدو چې حافظ مرحوم صرف یو ملا نه ،بلکې یو پښتون ملا و.د خپل ژوند پهٔ هره پامول شوې لمحه کښې د پښتانه قام د پښتو ژبې غم ورسره و. ترخپل وس زیات خدمت یې و پښتو ژبې تهٔ کړئ دی. له دیوان او د کسې ګلان پرتهٔ حافظ نور هم چاپ او ناچاپ آثار لري. پهٔ چاپ شوو اثارو کښې بې یو بل کتاب چې نوم یې "اسلامي ژوند" د، حافظ مرحوم پهٔ ډېره مینه او اخلاص سره وپښتو مینه والو تهٔ وړاندې کړی دی. دا کتاب چې پهٔ نثر کښې لیکل شوی دی. شپېتهٔ موضوعاتو لري. لکه څنګه چې یې نوم اسلامي ژونددی، دغه راز د نامه څخه معلومېږي پهٔ دې کتاب کښې د اسلامي ژوند ټولې دائرې بیان شوې دي. د پښتنې ټولنې هغه ټول فرسوده رواجو نه او د اسلامي احکامو پهٔ نامه سره بدعتونه پهٔ ګوتهٔ شوي دي. پهٔ پښتنې ټولنه کښې چې پهٔ غیر محسوس انداز سره یې ملاتړ کېږي هغه ټول پهٔ دې کتاب کښې پهٔ ښکاره ډول رد کړل شوي دي. پهٔ دې ذکر شوي کتاب کښې حافظ مرحوم بېلا بېل موضوعات څېړلي دي. پهٔ هغو کښې لکه حلال کسب کول او زده کول، د مسلمانانو د زوال اسباب، تجارت کول، زراعت کول، د وخت قدر، خمارکول، سود کول، زنااو لواطت، ظلم، غیبت، مسخرې یا ټوکښې کول، پهٔ ټګې سره پیرې کول، د خلقو پهٔ میان کښې روغه جوړه کول، اسراف، بخل، خیانت، جاسوسي؛ غرض د ژوند هره چاره یې پهٔ اسلامي او پښتنې دائره کښې د ننه څېړلې ده. د خپلو خبرو پهٔ اثبات د رسولو پهٔ خاطر یې د قرآن شریف او احادیثو حوالې ورکړې دي. پهٔ سهېلي پښتونخوا کښې ددغه فکر او پهٔ دغه طرز بل کتاب د اسلامي ژوند څخه مخ کښې نه معلومېږي. ګمان کوم چې پهٔ پښتو ژبهٔ او ادب کښې منفرد او د خپل

نوعيت يواځينی کتاب دی. چې د پښتني ټولني هغه ټولي ورې خامياني يې پۀ ګوتۀ کړی دي. چې موږ يې پۀ روزمره چارو کښې کوو. او خامي يې نه بولو حافظ صاحب ورتۀ د حل لاري هم سنجولي دي. دغه کتاب حافظ صاحب د يو تکړه نثر نګار پۀ ځېر د معرفي کولو دپاره پوخ دليل او ثبوت دی. د "اسلامي ژوند"نثر روزمره او ساده نثر دی. ده پۀ دې کتاب کښې ګراني او پېچيده جملې نه دي استعمال کړي. هسي خو حافظ يو ملا ؤ، فارسي او عربي ژبۀ يې هم زده وه،څه نه څه الفاظ بۀ هرومرو د نورو ژبو پۀ خپل نثر کښې استعمال کړي وي. خو پۀ عمومي توګه يې دپښتو توري کارولي دي. دنثر جملې يې ډېري لنډې او ساده دي. هر لوستی او نالوستی کس پۀ پوهېږي د بېلګي پۀ توګه يې دا نمونه وګوری.

"اتفاق يو کوتاه حرف دی ليکن پۀ حقيقت کښې ډېر اهم او معني خېز لفظ دی. عمل يې ډېري فائدې لري او نه عمل يې ډېر نقصانات لري. ليکن موږ پښتانه  د بې اتفاقي نقصانونه وينو، نقصانونه وړو بيا هم اتفاق نه سره کوو. ......ظلم پر بل چا زياتوب تۀ وای وچاتۀ تکليف ورکول د چا حق خوړل، تر خپل حد زياتۀ بدله اخستل بې وجي وچاتۀ نقصان ورکول دا ټول ظلم دئ"[(25)]

دغه د حافظ صاحب د نثر نمونې دي، چې رواني پکښې ده، پۀ وئيلو کښې څه مشکل نستۀ تر ډېره حده پوري د پښتو شوچه توري (چې پۀ سهيلي پښتونخوا کښې مستعمل دی) کارولي دي.

"اوبل پۀ دې کتاب کښې ډېر خالص پښتو لغات دي، نۀ فارسي اثر پر ستۀ نۀ دبلي ژبي. د کاکړستان د خاوري اصل پخواني ژوندي لغات دي"[(26)]

د سوچه علاقايي پښتو لغاتو د استعمالېدو سره سره انداز يې خطابي دی. اکثره ځايونو کښې يې ځان و يوې مجموعې تهٔ مخاطب غوندې ښکاره کړی دی. د دې کتاب يو لوی امتياز د پښتو د نثري وعظي کتابونو څخه دا هم دی چې د هر باب پهٔ پاي کښې لنډ غوندې خطاب يې و پښتنو تهٔ کړئ دی. چې انداز يې شوچه خطابي دی. د حافظ خان محمد مرحوم دغه زيار د رېښتني پښتني خدمت ښکاره دليل دی. چې حافظ صاحب دپښتو ژبې د پښتون وطن او د پښتانه قام يو مخلص نمائنده ثابتوي. له دغه درو بشپړه کتابو سره سره نور هم حافظ صاحب ډېري تحقيقي او تاريخي مقالې د سهېلي پښتونخوا پهٔ بېلا بېلو مجلو کښې خپرې شوي دی.

"زما د بحث اصل موضوع هم د حافظ خان محمد کاکړ پانيزی هغه دولس صفحې پهٔ وړه کچه هغه تفصيل دی چې د ميا عبدالحکښېم کاکړ پهٔ هکله دوی د ځينو تاريخي کتابو او شفاهي روايتو څخه راخستې دی. د ميا صاحب د ژوند پهٔ هکله دا لومړی مضمون هم د حافظ مرحوم دی چې وروستهٔ ټولو منابعو د هغه څخه اخيستنه کړې ده"(27)

حافظ مرحوم و ميا صاحب تهٔ ډېر عقيدت درلود. ميا عبدالحکېم صاحب يو کتاب "حصن الايمان" هم د حافظ صاحب پهٔ زيار سره خپور او چاپ شوئ دی. د دغه کتاب پهٔ سر کښې حافظ صاحب د ميا صاحب د ژوند حالات ليکلي دي چې يوه تحقيقي او تاريخي ليکنه ورتهٔ وئيلای شو. وروستهٔ اکثره محقيقينو چې د ميا عبدالحکيم صاحب پهٔ حواله سره کوم تحقيق کړی دی. ډېري حوالې يې د حافظ صاحب د تحقيق څخه رااخيستې دي. دغه راز حافظ صاحب د عربي مدارسو نصابي کتابونه "نورالظلم" تحفتهٔ انصائح" او د پنج کتاب د فارسي او پښتو ترجمې سره چاپ کړي دي.

چې د حافظ صاحب د ځیرکتیا ځرک نور هم ښکاره کوي. د سهیلي پښتونخوا څخه پهٔ خپره شوو مجلو کښې د حافظ صاحب یو شمیر مضامین چاپ شوي دي.د هغه عصر نامتو مجلې لکه "ګلستان""اولس" او داسي نورو مجلو کښې یې ډېري لیکني کړي دي. د ګلستان مجلې پهٔ هکله ډاکټر لیاقت تابان حافظ صاحب پهٔ نامتو لیکوالانو کښې یادوي.

> "پهٔ دې مجله کښې د هغه وخت نامتو لیکوالو لکه عبدالصمد خان اڅګزئی، محمد زمان خان اڅګزئی....... حافظ خان محمد.....او نورو لیکوالو سیاسي، ادبي او علمي مضامین خپرېدل."[28]

دغه راز د حافظ صاحب پهٔ بېلا بېلو ورځپاڼو کښې هم لیکني خپرې شوي دي. پهٔ هغو کښې لکه استقلال، خورشید او ورسره دهغه وخت د پښتو پهٔ ډېرو ورځپاڼو کښې لیکني خپرېدلې.

> "د پښتو لوستونکو او د روزني او خبرو رسولو پهٔ خاطر خورشید ورځپاڼه پهٔ پښتو ژورنالیزم کښې خپل ارزښت لري. د پښتو پهٔ برخه کښې د غازي صاحب پهٔ ګډون حافظ خان محمد ،مولوي محمد غوث ، اخوندزاده او نورو لیکوالانو لیکني کولې."[29]

پهٔ هغه عصر کښې چې پښتو لیکل څه پښتو لوستل هم ډېر کم و.حافظ صاحب سره د ملګرو د پښتو ولیکلو او لوستلو تهٔ د هڅولو له پاره ډېري سترې ګاللي دي.

له دې بحث څخه وروستهٔ پهٔ دې لیکنه کښې موږ ودې نتیجې تهٔ رسیږو، چې د سهېلي پښتونخوا ډېر زمریالی لیکوال د موږه څخه تر اوسه پوري ورک غوندي دی. یعني هغه مقام چې د ده حق ؤ موږ نهٔ دی ورکړئ. پښتون اولس او پښتنو لیکوالانو د حافظ صاحب حق پهٔ پوره ډول نهٔ دی ادا کړئ. حافظ صاحب ډېري لوی څېړنو، غونډو او تحقیقي لیکونو تهٔ اړتیا لري. د دې سیمي که نظم دی که نثر دی حافظ پهٔ خپل لږ

عمر کښې ډېري بريالی تجربې په کښې کړي دي. او دغه ستر او لوی افتخار د حافظ صاحب د شخصيت څرګندوی دی. چې د سهېلي پښتونخوا لومړی تذکره نګار دی. د وخت د تېرېدو سره به نور څېړن پوهان د حافظ صاحب په زيار باندي څېړني کوي او وادبي حلقو ته به د حافظ خان محمد مرحوم نور پټ اړخونه راڅرګندوي.

## حوالې


1) خان محمد، حافظ، ديوان، بلوچستان بک ډپو کوټه ،1985 ، مخ 113

2) بريالی، عبدالکريم ، د پښتو ادب زرکليزجاج، ليکنځي لومړی ټوک، پښتو اکېډمی کوټه 1984 ، مخ 99

3) بریالی، عبدالکریم، تکتو، پښتو څانګه بلوچستان یونیورسټي کوټه، جولائي دسمبر 2010 ، مخ 13

4) کاکړ، سیال، دیوان حافظ خان محمد ، بلوچستان بک ډپو، 1985 ، مخ 23

5) حبیبي ، عبدالحی، شل مقالې، ټولونکی، مطیع الله روهیال، 2007 ، علامه رښاد خپرونديه ټولنه، مخ22

6) منګل، علي محمد ،ادبي ګلونه، شعیب مطبوعه 1390 مخ 12

7) حمید الله، صاحبزاده، دیوان حافظ خان محمد ، بلوچستان بک ډپو 1985، مخ 14

8) خان محمد ، حافظ، دیوان بلوچستان بک ډپو کوټه 1985 ، مخ 118

9) همدا اثر مخ 173

10) همدا اثر مخ 169

11) همدا اثر مخ136

12) همدا اثر مخ64

13) همدا اثر مخ 61

14) همدا اثر مخ 59

15) همدا اثر مخ 52

16) همدا اثر مخ 69

17) همدا اثر مخ60

18) همدا اثر مخ 89

19) همدا اثر مخ 108

20) حمید الله صاحبزاده، دیوان حافظ خان محمد ، بلوچستان بک ډپو کوټه 1985 مخ 14

21) عزیز الرحمن، د کسې ګلان، بلوچستان بک ډپو کوټه، 1989 ، مخ 2

22) کاکړ ،سیال، ولي محمد ، نثري انځور ، پښتو ادبي بورډ کوټه، 2005، مخ 76

23) غازي، فضل احمد ، د کسې ګلان، بلوچستان بک ډپو کوټه 1989 مخ 43

24) کاکړ، سیال، ولي محمد نثري انځور، پښتو ادبي بورډ کوټه، 2005،مخ 77

25) خان محمد ، حافظ، اسلامي ژوند ، حافظ کتب خانه مسجد روډ کوټه، 1995مخ 94-140

26) همدا اثر مخ 5

27) بريالی، عبدالکريم، تکتو، پښتو څانګه، بلوچستان يونيورسټي کوټه، جولاۍ دسمبر 2010، مخ 12

28) تابان، لياقت ډاکټر، سهيلي پښتونخوا پښتو رسنۍ، ملګري ليکوال کوټه، 2008

29) همدا اثر مخ 35

# دراوۍ: يوه تحليلي څېړنه

# A STUDY OF DRAWAI

Sadiq Zarak*

**Abstract**:

*The author of this paper has critically analysed the historical background, moral values and limitations of a traditional meeting of the lovers known as Drawai. Author is of the view that it is limited to kakar's inhabited in the eastern parts of southern pashtoonkhwa. The author therefore, opted kakari ghari which is the only poetic source.*

*Author attempts to present the liberal and loving aspect of pashtoon society to the world.*

* Assistant Prof. Govt. Degree College Sariab Road Quetta